
BEAVERTON
SCHOOL DISTRICT

# مهرباني وکړئ ناروغه زده کونکي له ښوونځي څخه بهر وساتئ

لاندی لیست د ښوونځي لاربښوونې ورکوي نه طبي مشورې، د خپلې روغتیا د اندیښنو په صورت کې د خپل ډاکټر سره په اړیکه کی شی.



| د ناروغۍ نښې | زده کوونکی ممکن ښوونځي ته راستون شي وروسته له... (لاندی لیست په کور کې لنډ پاتې کیدل په نښه کوي . زده کوونکی ممکن د ځینو ناروغیو لپاره د ډیر وخت لپار په کور کې پاتې شي.) |
|---|---|
| **تبه: د 100.4 درجې یا زیاته.** | په 24 ساعتونو کې تبه نه راتلل بغیر د تبی کمولو درملو استفادی څخه. |
| **نوی ټوخلی ناروغي یا د ساه بندی تکلیف.** | نښې نښانې د 24 ساعتونو لپاره ښه کیږي (هیڅ ټوخی یا ټوخی په ښه توګه نه کنټرول کیږي او په آرامۍ سره تنفس کوي). عاجل طبي پاملرنې ته اړتیا لیدل کیدی شي. |
| **سر درد د شخې غاړې یا تبې سره** | د ناروغی نښو څخه پاک، یا د ډاکټر څخه د ښوونځي نرس ته امرونو سره. که تبه شتون ولري د تبې لارښوونې تعقیب کړئ. ممکن عاجل طبي پاملرنی ته اړتیا پیدا شي. |
| **اسهال : په ورځ کې ۳ ځلی مایع یا اوبو ته ورته غایته مواد اخراجول / او یا تشناب ته تګ کنترول نشي کړای** | د 24 ساعتونو لپاره د ناروغې نښو نښانو څخه پاکیدل، او یا د ډاکټر لخوا د ښوونځي نرس ته رهنمایی کول. |
| **کانګي کول: یو یا دوه ځلی چې تشریح شوي نه وي.** | د 24 ساعتونو لپاره د ناروغې نښو نښانو څخه پاکیدل، او یا د ډاکټر لخوا د ښوونځي نرس ته رهنمایی کول. |
| **د پوستکي خارښت یا لوڅ زخمونه** | له علایمو څخه پاک، دا پدې معنی ده چې خارش لرې شوې یا زخمونه وچ شوي یا په بشپړ ډول د بنداژ پواسطه پوښل کیدای شي یا د ډاکټر لخوا د ښوونځي نرس ته رهنمایی کول. |
| **سری سترګې/ د سترګو څخه اوبه راتلل: د سترګو څخه زیړی یا نصواري اوبه راتلل.** | له علایمو څخه پاک : دا پدی معنې ده چې د سترګو سوروالی او د اوبو راتلل له منځه تللې وي، یا د ډاکټر لخوا د ښوونځي نرس ته رهنمایی شوي وي. |
| **زیړوالې: په سترګو او یا پوستکي کې نوې زیړ رنګ ښکاره کیدل.** | وروسته له هغې چی ښوونځې له ډاکټر او یا د روغتیا اداری څخه د ښوونځي نرس ته رهنمایی وشي. |
| **پرته له کوم دلیل څخه په مختلف ډول عمل کول: په غیر معمولي ډول خوب کول، خپګان یا مغشوش کیدل.** | د تکلیف علایمو څخه پاک، پدی معنې چې خپل عادي عادتونو ته راګرځیدل او یا د ډاکټر لخوا د ښوونځي نرس ته رهنمايي کول. |
| **لویه روغتیایی پیښه، لکه یوه ناروغي چې تر 2 یا ډیرو اونیو دوام کوي یا په روغتون کې پاتې کیدل یا کوم روغتیایی حالت چې د ښوونځي کارمندانو څخه د توان پورته پاملرنې ته اړتیا لري.** | وروسته له دې چې ښوونځی د ډاکټر څخه د ښوونځي نرس ته رهنمایی وکړي او وروسته له دې چې د زده کونکي خوندیتوب لپاره اقدامات ترسره کیږي. مهرباني وکړئ د ښوونځي د کارمندانو سره ګډ کار وکړئ ترڅو د روغتیا پاملرنې ځانګړي اړتیاوې حل کړي ترڅو زده کونکی په خوندي توګه درسونو کې ګډون وکړي. |